(Published on *Institute for War and Peace Reporting* (https://iwpr.net)



# افغان کلیوال «خپلچارو» قانون جوړوونکو استازو ته له رایو ورکولو ډډه کوي

**Author:** IWPR staff

افغانان د راتلونکي کال له پارلماني ټاکنو دمخه وايي هغوی له خپلو استازو څخه ښه وړتیا لري.

**په افغانستان کې د آی ډبلیو پي آر لیکنه**

په روانه میاشت کې په افغانستان کې د آی ډبلیو پي آر له خوا په جوړو شوو مناظرو کې ځایي سیاستوال تر تودو نیوکو لاندې راغلل.

کلیوال په راتلونکي کال کې پارلماني ټاکنو ته په پام وايي، زیاترو اوسني قانون جوړوونکو خپلې ژمنې نه دي پوره کړي.

د یوې ازادې فضا په غونډې کې، چې د برخوالو د هڅونې لپاره جوړه شوې وه، یو شمېر ګډون کوونکو ویل، څلور کاله دمخه په پارلماني ټاکنو کې نوماندو استازو ته په رایو ورکولو له سره پښېمان دي او وایي چې د نوماندانو په اړه یې هیڅ معلومات نه درلودل.

یو شمېر نورو برخوالو پر دې ټینګار کاوه چې قانون جوړوونکي د قانون په جوړولو یا حساب کتاب ته د حکومت په راکښلو کې پاتې راغلي او ویل یې پر ځای یې په خپلو شخصي ګټو پسې ګرځي.

د پنجشېر ولایت د بازارک ولسوال د مناظرې برخوال، نصرالله امیري د پارلمان پر غړو پړه واچوله چې د سیمه ییزو موضوعګانو په هوار کې بشپړ پاتې راغلي دي. هغه وویل، پر ځای یې هغوی خپل معاشونه لوړ کړل او د خپلو دندو له امتیازاتو یې ګټه پورته کړه.

د بازارک د ځایي مشورتي شورا غړي، عبدالحمید عادل د پورته خبرې پخلی وکړ، زیاته یې کړه، په راتلونکي کې باید رایه ورکوونکي له رښتینول کار واخلي او له رایې ورکولو دمخه د نوماند مخینه په پام کې ونیسي.

د بدخشان ولایت په مرکز، فیض آباد کې د مدني ټولنې فعالې، مریم امواج ادعا وکړه ټاکلو شوو استازو خپل وخت په دفتر کې تېر کړی، د عامه خیر ښیګڼې د کارونو پر ځای یې وخت په خپل ځان لګولی دی.

د فیض آباد د ولایتي شورا مشر، عبدالله ناجي نظري د مناظرې برخوالو ته وویل، که چېرته د هغوی له خوا ټاکل شوو استازو په خپلو ژمنو وفا ونه کړه، باید د مدني ټولنو فعالیت ته مخه کړي.

هغه په دوام وویل: «د خلکو دنده ده چې د پارلمان د غړو کارونه وڅاري او پوښتنه ترې وکړي چې ولې خلکو ته خدمت نه کوي.»

د نیمروز ولایت په مرکز، زرنج کې د مدني ټولنې فعالې، نظیفي وکیلي وویل، رایه ورکوونکي باید د رایې ورکولو صندقونه درغلو سیاستوالو ته د سزا ورکولو لپاره وکاروي.

هغې وویل: «د اشتباه تکرار ګناه ده. باید بیا خپلچارو افرادو ته رایه ور نه کړو.»

قومي مشر، میرعبدالله وویل، پارلماني نوماندان باید د افغاني ټولنې اړتیاوې ښې وپېژني.

هغه وویل، یو شمېر قانونونه چې اوسني پارلمان تصویب کړي، بې ګټې دي، ځکه هغوی نه دي توانیدلي په افغانستان کې د ژوندانه په واقعیتونو وپوهیږي.

**Location:** افغانستان
**Topic:** Corruption
**Focus:** Youth and Elections, Afghanistan
Afghanistan

**Source URL:** https://iwpr.net/ps/global-voices/%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86-%DA%A9%D9%84%DB%8C%D9%88%D8%A7%D9%84-%C2%AB%D8%AE%D9%BE%D9%84%DA%86%D8%A7%D8%B1%D9%88%C2%BB-%D9%82%D8%A7%D9%86%D9%88%D9%86-%D8%AC%D9%88%DA%93%D9%88%D9%88%D9%86%DA%A9%D9%88-%D8%A7%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D8%B2%D9%88-%D8%AA%D9%87-%D9%84%D9%87-%D8%B1%D8%A7%DB%8C%D9%88-%D9%88%D8%B1%DA%A9%D9%88%D9%84%D9%88-%DA%89%DA%89%D9%87-%DA%A9%D9%88%DB%8C